DEC3.05.26.2025-B

**Supreme Court ستره محکمه**

26 May 2025 ·

په لغمان ولایت کې دوو مجرمینو ته تعز/یري سزا ورکړل شوه

د لغمان ولایت الینګار ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې د یو ښځې په ګډون دوو کسانو ته، له کوره د تېښتې او له کوره تېښته کې د همکارۍ په جرمونو؛ نن دوشنبه ( ۲۸/ ۱۱/ ۱۴۴۶هـ ق) نېټه په عام محضر کې تعز/یري سزا ورکړل شوه.
د تعزیري سزا حکم د تطبیق په موخه جوړه شوې غونډه کې د لغمان ولایت د مرافعه محکمې رئیس محترم مولوي عبدالکریم (حقاني) صاحب په ټولنه کې د حدودو او تعزیراتو د احکامو د تطبیق د ګټو په اړه تفصیلي وینا وکړه وویل، که پر مجرمینو او متهمینو د حد/ود او تعز/یراتو سزاګانې تطبیق نشي ټولنه د فساد لوري ته ځي او د ټولنې د وګړو مال، ځان او نفس نشي خوندي کېدای.
دغه راز د الینګار ولسوالۍ ولسوال محترم مولوي نورالهادي صارم هم د غونډې ګډونوالو ته د اسلا/مي نظام پر ارزښت خبرې وکړې، اسلا/مي نظام یې د الله تعالی لوی نعمت وباله زیاته یې کړه، د حد/ودو او تعز/یراتو تطبیق کې د ټولنې خیر نغښتی دی.
په دې سربېره د الینګار ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې رئیس هم حاضرینو ته د اسلا/مي نظام، محاکمو د ارزښت او مجا/هدینو پر قر/بانیو او سرښندنو خبرې وکړې.
د یادونې وړ ده چې ابتدائیه محکمې یو مجرم پر یو کال تنفیذي او ۳۰ دُ/رو او مجرمه پر درې کاله تنفیذي بند او ۳۰دُ/رو تعز/یري سزا محکوم کړي وو؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر یادو مجرمینو تطبیق شوه.

